مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: ډاکتر مهندس حشمت الله اتمر
۲۰۲۳/۰۷/۱۹

# حشمت خان د کلا معماري (مهندسي یا ارکیتیکچر)

دوېيمه برخه

## حشمت خان د کلا حرمسرای:

دا حرم سرای کچه کوڅي ته کومه لاره (لار) نه درلوده، د هغه لاره د سوېلي (جنوبی) کلا او حرمسرای له لارې وه، لمړی به سوېلي حرمسرای ته ننوتل او بیا به، په ښې خوا تا وېدل او حرمسرا ته به ننوتل. د وخت په تېرېدو، د هغه دې لمسیانو، د اطلاعات او فرهنګ د وزارت د نه پاملرني له کبله هغه سوېلي کلا او حرمسرای شتون نه لري، خلکو په خپله خوښه په هغې کې ابادي کړې ده.



د حرمسرای د ننوتو پخوانی لاره چې اوس شتون نه لري

په دې لاره کې لوی ور(دروازه) و، چې د لرګو نه جوړ شوی و، دې دروازې دوې پټونه (پلې) درلودل، چې یوې به یې تل خلاصه او دوېيمه به یې د اړتیا په وخت کې خلاصې ده، چې دا دوېيمه پټه (پله) یوه پوزه هم درلوده.

دروازې کې کوم اوسني اوسپنیز مېخونه نه لیدل کېده او د تختو یو ځای کېدو(اتصال) به د وطني جوړ شویو ګل مېخونو په ذریعه کلک شوې وو. دروازې نني ځړونی (چپراس، چپ - راست) نه درلودل او په ژیو کې به یې ولاړ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تاو(لوله) لرګي و، چې د هغه په ذریعه به تاو راتاو کېده. داسې ځرونی د مراد خاني، بي بي مهرو او د کابل ښار په زړو سیمو او کلاګانو کې تر اوسه هم شتون لري.
د دروازې د پاسه بالا خانه وه، چې د دروازې کنټرول به یې کوه، او په هغې کې به ساتونکي اوسېده، دا بالاخاني (سراچې) د کلا د ننه د خټو لار در لوده چې د اومه خښتو او خټو نه جوړه شوې وه.

دي بالاخاني د کچه لارې خوا بالکن هم درلود چې د دفاعي چارو کې به کارول کېده، د دروازې لوړ والی نږدې څلور متره و، چې خپله حشمت خان او یا د هغه د کورنۍ، دوستانو به کولای شو، د اس د پاسه له دروازې نه حرمسرای ته ننوزي.

حرمسرای په ښي لاس کې یو لوی جومات شتون درلود، او ډېری برخه یې ړنګه شوې ده، مګر څه نړېدلي دېوالونه یې تر اوسه هم په سترګو کېږي.

د دي حرمسرای نه اصلي کلا ته لاره وه، کومه چې په خپله حشمت خان د خپل کورنۍ (فامیل) سره اوسېده، د کلا په دوې خواکې یې کوټې درلودې، چې ټولې یې د اومه خښتو څخه جوړې شوې او تر اوسه هم په ویجاړه توګه شتون لري.

د کوټو چتو نه یې ګنبدي دي، کوم چې معماري یې د بلخ ولایت نه لېږدول شوې ده. د چت خښتې یې پخې او د چونې د مصالې(مصالح) په مرسته یو د بل سره کلکې شوې دي، دا خښتې په نیغه (تېغه) کارول شوې دي.


کوټو د بامونو ګنبدونه

بر سېره پر ګنبدونو د ماتو خښتو ټوټې او خاوره لیدل کېږي، چې تر یوې متر هم ډېره ده، په وروستي پړاوکې، بامونه اواره او د ناوې ځایو نه یې هم ښکاري. هرې کوټې یوه لاره د لمر لوېدو(لوېدیځ) خوا او ځیني کوټې د یوې نه بلې ته هم، لاره لري.
د کوټو په چتونو، ژیو(کنجونو) او همدا راز د کما نونو په ژیو (نوشونو) کې ډول او سینګار لیدل کېږي چې دې چونې او شګې پلستر سره پر پخو خښتو، دختو(سندلي) نه په پام کې نیول شوي او تر اوسه هم شتون لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د کوټو نه د باندې ښکلي ستني (پا یې) چي یوناني سبک ته نږدې دي، په سترګو کېږی چي له اومه خښتو، خټو نه جوړې شوي او د سندلي څخه پوښول شوي دي. د دې ستنو په سر کي کمانونه هم ښکاري ، چي په اسلامي معماری کي د کړکیو او دروازو د پاسه لیدل کېږي.

دا دېوالونه، د ننه او د باندې خوا نه په سپینه خټه، چي په سیمي کي ورته ګل سفېد وایی، سپیني شوي ، او ټولي یې په یوې پوړ کي دي. همدا راز د کلا په نو رو خواو کي د کوټو نښي لیدل کېږی، چي د کلا په دېوالونو کي د کوټو د چت لرګیو سوري چي لوړ والی یې څه باندې درې متره دي.

د لرګیو د یوې سوري نه تر بل سوري پورې پنځه ویشت سانتي ده، کوم چي له اسلامي مېچي موډل نه تر لاسه شوې او د کابل په زاړه ښار کورونو کي چي له درې سوه کلونو مخکي جوړ شوي دي، هم لیدل کېږی.

له هغو نه د کابل ښار عاشقانو او عارفانو شاوخوا کورونه، شور بازار، د پېښوریانو سرای، مرادخاني او بي بي مهرو کورونو، نومونه اخیستی شو.



د حشمت خان د کلا شاوخوا، د کوټو شتون نښي په دېوالونو کي

د لوې دروازې کیڼ لاس ته بله کلا وه، چي په هغه کي لوی حمام شتون درلود، دا حمام خورا لوي و، چي د کابل د زوړ ښار شتر خاني حمام ته ورته و، سر یا چت یې ګنبدي و، او د ګرمو او سړو اوبو لوښي یې حوض په شان جوړ شوي، دننه یې د مربع شکلو پاخه شویو سرامیک نه کار اخیستل شوی و.
د دې حمام، غوجلي، کلا دېوالونه او ځلي نه تر سترګو کېږی او په دې ځای کي نوي د استوګني کورونه جوړ شوي دي.

د کلا دننه، د کړکیو او دروازو کومه نښه نه لیدل کېږي، مګر د دروازو، کړکیو او د چت د تیرانو ځایونه (چاپونه) لیدل کېږی، داسي ښکاري چي دا لرګیو شتون درلود او د وخت په تېرېدو او تنظیمي جګړو په وخت کي لوټ او د سوند د موادو په توګه ترې کټه پورته شوي وي.

یو بل عامل هم د حشمت خان کلا په نه پاملرني کي، د هغه کورني لرې والی وو، کوم چي د نوي ښار (شهر نو)، شش درک پلان جوړېدنه او د هغو نمبرو(نمرو) ویش و، د حشمت خان ورثې هم کوښښ وکړ چي په یاده شوي سیمي کي نمرې او بیا وروسته په هغه کي د استوګني کورونه جوړ کړي، چي تر اوسه یې هم د هغه د ورثې جایدادونه د نوي ښار(شهرنو) د طوره باز خان په سیمي کي شتون لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دي کلا نهه ځلي (برجونه) درلودل، چي اوس یوازی اوه ځلي یې تر سترګو کیږي، د لیکوالانو په لیکني کي داسي ښکاري چي کوم وخت تیمور شاه دراني د افغانستان پلازموینه (پایتخت) له کندهاره - کابل ته ولیږد (انتقال کړ) او په دې وخت کي د کابل بالاحصار د نن ورځي په ښان، تر جوړوني (ترمیم) لاندې و، او په هغه وخت کي کابل کي کوم ارګ نه و، د کابل شاهانو به بالاحصار چي جنګی کلا وه د ارګ په توګه کاراوه.

تیمورشاه څه موده د حشمت خان په کلا کي اوسېدل غوره ګڼ، کوم چي بالاحصار ته ډېره نږدې سیمه وه، همدا راز اعلیحضرت محمد ظاهر شاه به هم دې کلا ته د ماښام او یا د ورځي له خوا ته او سهار وختي به د لویې دروازې مخاخ ډند ته، ته او هلته به یې ښکار کوه، ځکه چي محمد ظاهر شاه د حشمت خان سره کورنی اړیکي درلودې.



د کلا د ننه اړین، انځورونه

د دېوالو په ځینو سیمو کي د دېوالي نغریو، بخاریو(Fire place) ځایونه تر سترګو کیږي، دا په دې مانا ده چي داسي بخارۍ په نورو کوټو کي هم شتون درلود او د وخت په تېرېدو سره ویجاړ شوي دي، وروستی او اړینه خبره داده چي:

په کال ۱۳۳۰ هجری شمسي کي له دې کلا نه مرستون په توګه هم کار اخیستل شوی دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ